# يا الله زما قبر بت مه جوړوه

ابو هريره رضي الله عنه له نبي صلى الله عليه وسلم څخه روايت کوي: «يا الله زما قبر بت مه جوړوه، د الله لعنت دې وي په هغو خلکو چې د خپلو پيغمبرانو قبرونه يې جوماتونه ګرځولي دي».

[صحيح دی] [احمد روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم له خپل رب څخه وغوښتل چې د هغه قبر دې د هغه بت په څير ونه ګرځوي چې خلک يې په تعظيم کولو سره عبادت کوي او سجده ورته کوي، بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکړ چې الله تعالى هغه خلک له خپل رحمت څخه شړلي او لرې کړي دي چې د پيغمبرانو قبرونه يې جوماتونه ګرځولي، ځکه چې له هغوی څخه جوماتونه جوړول يې د عبادت کولو او په اړه يې د ناسمې عقيدې لرلو لامل ګرځي.



النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee